سلیمان اسدالله اشنا ۲۰۱۳/۰۵/۰۷

# ډیورنډ د کرښه- پښتون قومونه - او د ګوشتې اوسنۍ خبر

د ننګرهار د ګوشتې ولسوالی د کونځړۍ سیمه کومه چې د پاکستانی پوځیانو له خوا نیول شوې او پکې پوستې او دروازه جوړې شوې وې د ثور د ۱۱ او ۱۲ تر مینځ په شپه کې د نوموړی دروازې د دواړه خواوو د غیرتی اوسیدونکو په ملاتړ د افغانستان د مسلمان، ننګیالی، با غیرته، او میړانه پوله ساتونکو ځواکونو له خوا له مینځه وړل شوه. په نښته کې اووه (۷) پاکستانی پوځیان مړه او ګڼ شمیر ټپیان شوی. او د افغان د سرحدی پولیسو یو غیرتی او میړانه سر تیري (قاسم مجاهد) د ملک او خاورې د ساتلو په موخې د دښمن سره د جګړې په مهال د شهادت لوړې درجې ته ورسید. روح دې ښاد او ځای دې جنتونه وی. انا للهِ و انا الیهِ راجِعون. «۱». الله تعالی دې داسې لوړ مقام مونږ ته هم په نصیب کړې. او الله دې دداسې میړانه، پر عزمه، پر شهامت او پر وطن مین ځوی په روزلو سره د هغه غیرتی کورنې، مور او پلار ته اجر ورکړې. دوه ورځې وروسته له هغې نښتې د پا کستان اوردو بیا د ګوشتې په سیمه کې خپلې کړنې پیل کړې او پر افغانی تاسیساتو یې برید وکړ، خو د افغانستان غیرتی پوله ساتونکی ځواکونو په ډیره میړانې سره د هغو برید په شا وتمباوو، نښته تر دریو ساعتو دوام وکړ، او روسته له دریو ساعتونو د هغو په غوښتنه د ای اس اف (ISAF) په مینځګړتوب نښته د دیرشو څخه د زیاتو پاکستانیو، د هغو د یوه ټانک، څو پوستو او درنو وسلو ته په زیان رسیدو سره پای ته ورسید، او افغانی لوری هیڅ ډول زیان ونه لید.«۲»

د سلیمانخیلو د قومی سراسری اجتماعی شورا د ننګرهار مسولین او قومی مشران د شهید قاسم مجاهد په جنازه کې ګډون وکړ او د سلیمانخیلو د قومی شورا د مرکزی دفتر له خوا د ټول افغانستان د سلیمانخیلو په استازیتوب د ننګرهار د میړانه ولس سره خپل د داسې میړانه ګام په برخه کې پوره ملاتړ اعلان کړ او وویې ویل چې د وطن د ساتنې په برخه کې به د هیڅ ډول قربانۍ څخه شاته نشی. «۳». د یادې وړ ده چې د تیر کال (۱۳۹۰) د میزان په میاشت کې د ژوندون ټیلویزیون په انګړ کې د افغانستان د ګردو قومونو د مشرانو په یوه غونډه کې چې د ډیورنډ د کرښې په مسله را بلل شوې وه، د ټولو قومونو مشرانو او استازو او د سلیمانخیلو د قومی سراسری اجتماعی شورا له پلوه د ټول افغانستان مخور مشرانو ګډون درلود. د غونډې په مهال ټولو مخورو پښتنو مشرانو د ډیورنډ کرښه غیر قانونی وبلله او ویې ویل چې دا کرښه افغانانو ته په هیڅ ډول د منلو وړ نده. د سلیمانخیلو د قومی شورا رییس محمد ایوب خالقیار د قوم په استازیتوب د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د افغانستان او پاکستان لپاره ټاکل شوی امریکایی استازی (مارک ګروسمن – Marc Grossman ) ته خبرداری ورکړ چې د ډیورنډ د کرښې سره سره د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاس وهنې څخه ډډه وکړی او د افغانستان د میړانو او باتورو قومونو دښمنی دې ځانته نه اخلی. پس له هغې د امریکا متحده ایالاتو د هغه پر ځای بل استازی (ډیوېډ پیرس – David Pearce ) د چارو د سر پرستی لپاره وګماره. د افغانستان د مختلفو ولایاتو څخه د سلیمانخیلو زر (۱۰۰۰) تنه میړانه ځوانان د وطن څخه د دفاع په موخې هم هغه مهال تیار شول تر څو د افغانستان ددولت تر څنګ د خپلې خاورې او ناموس څخه دفاع وکړی. «۴»

اوس مهال د افغانستان د پوله ساتو ځواکونواو ملی اردو ګڼ شمیر د ګوشتې په سیمه کې د هر ډول جګړې سره د مخامخ کیدو لپاره ځانونه په درنو وسلو سمبال کړی او مورچلې یې ټینګې کړی. د افغان د پوله ساتو پولیسو میړانې ته مو سلام او له دوی سره د ملاتړ لپاره به تل داسې ځوانان به په ټول افغانستان کې موجود وی چې د وطن د دفاع لپار تر سره تیر وی. د کورنیو چارو وزیر (جنرال مجتبی پتنګ) د ګوشتې او ننګرهار څخه لیدنه وکړه او خپل په وطن مین سرتیری یې د هغو د میړانتوب لپاره وستایل او د شهید محمد قاسم کورنی ته یې د هغه شهادت د لوړ مقام لپاره مبارکی ورکړه. ګر چې د کورنیو چارو د وزیر د سیمې لیدنه د ستاینې وړ ده، خو بیا هم په مختلوفو مطبوعاتو کې مختلف غږونه تر غوږه کیږې چې ګواکې ګوشته خرڅه شوې ده خو دا له په ډاګه نده چې آیا رښتیا؟ او که هو نو چا؟ «۵» خو کچیرې څوک هم داسې کار وکړې نو د فغانستان دا ولس چې د تیرو لسګونو کلونو را هسې د بې اتفاقي په اور سوزیدلی یو وار به بیا په ګډه او اتفاق سره د دښمن او د دښمن د نوکرانو په خلاف یو موټي شي، ځکه چې رسني شاهد دي چې په هر ځای کې لاریونونه وشول او افغانانو خپل د وطن پرستي او اسلام پرستي خذبات او احساسات په ډاګه کړل. بس اوس نو وقت راغلی چې حکومت هم د دغې میړانې او غیرتی کار نه پس د پاکستان سره د سرحد په برخه کې جدی شی، جدی ګامونه پورته کړی، او ددې مسلې اړوند دریځ دې پاکستان، نورو ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو ته په ډاګه کړي. که نه نو بیا به د تل لپاره د افغانانو باور له حکومت څخه پورته شی. او ورسره به پاکستان


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نور هم زړور شی او نور به هم د اوسنی غیر مشروع سرحد څخه وړاندې راشی او حتی د افغانانو د سر او مال سره به هم لوبې وکړي.

د لوی، پر امنه، او سوکاله افغانستان په هیله!

پای

سلیمان اسدالله (اشنا)

۱۳۹۲ د ثور ۱۹ یا د May 9th, 2013

زیرمي - ماخذات

«۱» پژواک

«۲» جنرال مجتبی پتنګ

«۳» د سلیمانخیلو و قومی شورا ویاند

«۴» ژوندون ټلویزیون، سلیمانخیلو قومی شورا

«۵» رسنی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ